
Ketabton.com
د روح چیغه
شعری ټولکه
ډاکتر عتیق الله (ژمن)

ketabton.com - The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم!

ketabton.com - The Digital Library



# د ليکوال خبري:

د کندهار ولایت مرکزی ښار اوسیدونکي یم ، په 1386ه ش چي د عیسوي 2005 کال د ډسمبر 20 تاریخ سره سمون خوري ، په یو غریبه او ساده کورنۍ کې زیږیدلی یم ، له پروتیز او فارمسي پوهنځیو څخه فارغ یم .

شاعري مي شوق او د( خداي جله جلا له) له طرفه یو لوي استعداد را کول سوي دي ، په غزل او نظم کي مې ډیر څه لیکلي دي د ټولنې بې انصافي ، د خداي ناشکرې ، او انتقادونه مې خپل تر وسه په غزلونو او نظمونو کې لوستونکو ته په کنایه او اشاره سره په ګوته کړي دي ،

ددې کتاب د لیکلو پر وخت مې عمر شل کاله دي ، د ځینو تیروتنو لپاره بخښنه غواړم او ستاسو د تشویق په هیله یم .

یادونه : زما غزلونه باید د ادبي مبالغې په توګه ولوستل سی نه عقیدې دبیان په توګه ، ځکه چي ځیني شعرونه داسي وي چي بیت یا مصرعې یو ډول لیکل سوي وي خو معنا یي ډیره ژوره او له مفهومه ډکه وي ، نو ستاسو څخه

ketabton.com - The Digital Library



مي هيله داده چي د هر غزل په لوستلو کې پوره غور او دقت وکړي او هر بيت د عقل په غوږونو واوري او د روح په زړه يې احساس کړي .

په ليکوالي کې مې هم څلور ناولونه ليکلي دي چي په لاندي ډول دي ،

1. ناحقه سزا ناول
2. لار ورکی ځوان ناول
3. له نړۍ بهر لس ورځی ناول
4. مجرم ناول
5. اوسنی کتاب: د روح چيغه(شعري ټولګه)

په درنښت : **ډاکټر عتيق الله ژمن**

ketabton.com - The Digital Library



# د کتاب په هکله:

«د روح چيغه» د غزلونو يوه شعري ټولګه ده چې د انسان د فکر، احساس، مينې، درد، وجدان، هيلو او ناکاميو بېلابېل انځورونه پکې راټول شوي دي. د دې کتاب هر غزل د شاعر د زړه او روح له نړۍ څخه راوتلی يو احساس، يوه پوښتنه، يو درد او يا هم يو پيغام دی.

دا کتاب په دوو فصلونو وېشل شوی دی. لومړی فصل د فلسفي، فکري پوښتنو، ټولنيز انتقاد، تصوف او د ژوند د بېلابېلو حقيقتونو په اړه غزلونه رانغاړي. په دې برخه کې شاعر هڅه کړې چې د انسان د وجود، وجدان، ګناه، توبې، امید، نااميدۍ او د ژوند د ژورو مفاهيمو په اړه خپل فکرونه له لوستونکي سره شريک کړي.

دوهم فصل بيا د مينې، فراق، احساساتو، د زړه د دردونو، يادونو او رومانتيکو تجربو هنداره ده. په دې فصل کې د عاشق د زړه هغه خبرې بيان شوې دي چې کله د خوشحالۍ او کله هم د بېلتون او تنهايۍ رنګ لري.

ketabton.com - The Digital Library



د دې کتاب ډېری شعرونه د شاعر د شخصي احساساتو، مشاهداتو، فکرونو او ژوند د تجربو زېږنده دي. موخه یې یوازې د شعر ویل نه، بلکې د هغو احساساتو او فکرونو بیانول دي چې ډېر وخت د انسان د زړه په تل کې پټ پاتې کېږي.

هیله ده چې ګرانو لوستونکو ته د دې کتاب لوستل یوازې د شعر له پلوه خوند ورنه کړي، بلکې د فکر، احساس او تأمل یوه نوې نړۍ هم ورته پرانیزي.

## تاته دي ډالۍ وي

ketabton.com - The Digital Library



# لومړی فصل(فلسفي برخه)

د روح چغي مې زه اورمه قيامت کې
ګناهګار وم ددنيا په امامت کې

هم ګناه کوم او هم د خداي نه شرم
ژوند به ځنګه وي په داسې خجالت کې

د کعبي نه چي مې مخ په بله اوړي
ما خپل خداى ليدلي خلکو بل زيارت کې

د تورى شپي او تنهايى پايله مي دغه وه چي
زه ړوند بينا سوم هم هوښيار سوم حماقت کې

د ځان پرته هيڅ د بل مه منه ژمنه
فکر کول پکار دي دغه نصيحت کې

ketabton.com - The Digital Library



●●●

اختلاف یم د نړۍ د مذهبونو
ځکه پاک یم د قرآن په ایاتونو

تر ځنګدنه پاتي سوي یم بې وسه
ګرځېدلي یم په واړو اسمانونو

په ګناه کي مې جنت لیدلي ځکه
تښتېدلي یم د مسجد له زنځیرونو

چي مینه نه وي او قربان وي لیکل سوي
خاوري دې واوړې ستا په ټولو کتابونو

چي بیا ژوندي سم او معشوق ونه وینمه
هلته خوشحال یمه په تورو دوزخونو

ketabton.com - The Digital Library



ستا نعمت يم په ګناه کې اچولي

ژمن بيزار يم ربه ستا له نعمتونو

●●●

په ملنګۍ د باچا تخت وينمه

په کمزورۍ کې ډير قوت وينمه

په ميکده کې اذانونه کوي

په دې سړي کې يو حکمت وينمه

مسلمان وژني د ثواب لپاره

داسې جهاد کې زه دهشت وينمه

د نارينه غيرت يو وچ درياب سو

زه اوس په ښځو کې همت وينمه

دښو خبرو په ځاي سپکي وايې

ketabton.com - The Digital Library



زه یې لفظونه په دقت وینمه

خوله به یې ډکه له اذکارو وه تل
نن هغه خلک په غیبت وینمه

هغه نو دومره بختور څنګه سو
چې په قرآن کې یې صفت وینمه

ژمن نن بې ږیرې په منبر ولاړ دي
بې حیا ئې کې یې عزت وینمه

●●●

زه نه هندو نه مسلمان پاتې یم
زه لیونې په بیابان پاتې یم

له مانه هیڅوک د ښو تمه نکړي
زه و هرچاته په تاوان پاتې یم

ketabton.com - The Digital Library


ټول رانه مخکي په قلم سوي دي
زه بيسواده افغانستان پاتي يم

په ما تکيه مه کوه ستړي يمه
زه په سفر کي له خپل ځان پاتي يم

دلته د ژمن په نامه ښخ يو سړي
دغه لوحه د قبرستان پاتي يم

•••

ربه ولي دي پيدا په دې دنيا کړم ؟
ربه ولي دې اسمان ته په ژړا کړم ؟

ستا ديدن چي دلته نسمه کولاى
ربه ولي دى په سترګو زه بينا کړم ؟

ketabton.com - The Digital Library



هیڅ دعا مي ستا په در کي نه قبلیږي
ربه ولي دي خپل ځانته په دعا کړم ؟

خلافت د ځمکه زه نسم کولای
ربه ولي دي دې ځمکي ته عطا کړم ؟

اوس مي روح د بل چا روح سره پیوند ده
ربه ولي دي معتاد په دې ګناه کړم ؟

ربه زما عمل چي تا لره معلوم و
ربه ولي ملامت دی په عقبا کړم ؟

زه اوس پوسوم په دې کي ستا حکمت و
دا چي زه سوم معزز تر مخلوقاتو

نه نبي او نه رسول یم لیږل سوي

ketabton.com - The Digital Library



ربه ولي دي دې ژمن ته په وينا کړم ؟

●●●

که ستا د قهر او غضب نه ساتل کيږم
لکه باران بيابه په ځمکه راوريږم

ته رحيم يې ته رحمن يې زه خبر يم
تا بخښلي يم خو زه درنه شرميږم

د قاروون په څير که زه هم بغاوت کړم
د همدې دنيا جنت مي به سوځيږم

نن دوزخ کې زه ناره د يارب نکړم
ځکه پوهيږم چي پخپل سزا رسيږم

د ګمراهي په وچکالۍ مي ژوند تير کړي
اوس وګوره د زم زم په آب لمبيږم

ketabton.com - The Digital Library



په ښو خلکو مصيبت کې ستا حکمت دي

ستا بنده يم په همدې خاطر کړيږم

چي زما او ژمن ښخه راضي په آخرت سی

په جنت مي به هم ستا خواکې اوسيږم

•••

مات مات ولاړ يمه د روغی آئيني مخي ته

زه غورځولي يم قسمت د زمانې مخي ته

دجومات سره  مسلمانو بي عزته کړمه

ځکه ولاړ يمه زه اوس د بوتخانی مخي ته

له بيوسي مو پرون وخوړلی توري خاوري

شتمن سړي خوشي ولاړ دي د کعبې مخي ته

ketabton.com - The Digital Library



ده خو زه مړ کړمه اوس مي بيا درمان جوړيږي
را پرې يې نږدي داسړي د هديري مخي ته

ستړي به نسم په خدمت کې که هرڅه هم وسي
ورځ په قيامت به هم ولاړ يم د ادې مخي ته

زما په ياد کې يې له سترګو ښخه وځي اوبه
پام چي تکرار نکړي زما نوم د هغې مخي ته

دابراهيم غوندي په رب باندې توکل لرمه
دا اور خو هيڅ ندي زما دعقيدې مخي ته

داوبو نده نو په دی سبب روان يم تري نه
د علم تنده نه ماتيږي د ويالې مخي ته

په ځنکدن می خپل د رب سره خبرې کړی

ketabton.com - The Digital Library



زه ژمن نښېږمه د خپلې جنازې مخې ته

●●●

د کتاب په څیر زه ډک یم په رازونو
څوک به پوهنسي زما په هدفونو

زه په دغه رنګه خونه کې اوسیږم
ښار که هرڅومره هم ډک له محلونو

بیابه هم و خپل منزل ته تل رسیږم
که یونس غوندې خوراک سم د حوتونو

سکونت که د جنت په پای کې وکړم
را رسیږي به لمبه د دوزخونو

زه ملنګ ددې نړۍ سهولت څه کړم
زه خوشحاله یم مدام په زیارتونو

ketabton.com - The Digital Library



خاموشۍ کې زما اواز ورک سوي
زما په حال ژړلي ټولو عالمونو

د اسرافیل شپیلۍ له خوب پاڅولی
اوس نخیږم د قیامت په میدانونو

په لمانځه کې يې هم خپل صفت دي کړی
دې سړي خو وکړ حد په دې کارونو

تورات زبور انجیل ښه که قرآن ؟
زه يې ورک کړمه په دې لویو سوالونو

زه او ژمن سره روان یو په دې لاره
را ایله نسي آسمان زموږ په سرونو

●●●

ketabton.com - The Digital Library



د قیامت په حسابو کي به سم پړ
نه به تور سم به سپین سم نه به خړ

یو هوښیار خو دې زما قبر ته راسی
نه پوهیږم زه ژوندی یمه که مړ

ته خو ښه یې د زم زم د اوبو جام یې
زه د عشق ترخو شیدو باندې ککړ

د ګناه په ځادرو کي یم پیچلې
ستا د رحم په نظر به سم لغړ

داچي نوم یې په قرآن کي ذکر سوي
همدا کس دي د همدې ستایلو وړ

د پرمختګ په ځاي شاتګ ته مخه کړي

ketabton.com - The Digital Library



ژمن تړلې دي په داسې يو ربړ

•••

يمه مړ سوي اوس پخپله جنازه ژاړمه

چي څوک مي نسته نو تنها په آيينه ژاړمه

زه دنړۍ څخه راستون شومه ذليل جنت ته

خواشيني ناست يمه پخپله قواره ژاړمه

•••

ما د شهوت او د شهرت لپاره ژوند تير کړي

زه آخرت کي به پخپل عمل نامه ژاړمه

د بزرګۍ د فضيلت څخه مي کرکه وسوه

ځمکه پريږدمه د آسمان په ستاره ژاړمه

عجيب مخلوق يمه ګناه او دعا دواړه کوم

ketabton.com - The Digital Library



عجیب مخلوق یم دخندا په پیلامه ژاړمه

یاخو ناپو یم یا له ډیره عقله داسي کوم
انجیل مي هیر کړي د قرآن په سیپاره ژاړمه

ژمن مې د یار دسترګو ذکر راته ولي کوئ ؟
مئین سړي یمه په لږ څه بهانه ژاړمه

•••

د خداي اواز مې راغلي تر غوږونو
ځکه ولویدمه زه له آسمانونو

چا لیدلي ومه زه په لیونتوب کې
چا بللې وم باچا ددې ښارونو

داځل داسي یو احساس راته پیدا سو
ماته وښودلې لارې د قبرونو

ketabton.com - The Digital Library



داچي اوس يم ژوندی د پيسو زور دي

مړ بللې وم پخوا زه خپلو ورونو

په ظاهره چي هرخومره سور کافر يم

رب ياد کړي يمه تل په ښو نومونو

زه به هلته هم دوزخونو کي نخيږم

ما مدام تور کړي مخ په ښو کارونو

داچي ژمن ستا قصيده باندې خندا کړي

ده ليکلي دي کتاب د غزلونو

●●●

اوس په ډکو سترګو ګورمه آسمان ته

په تور مخ اوښکي رواني دي ګريوان ته

ketabton.com - The Digital Library



چي خپل خدای مې هم زه تور یمه بللې
ځان به څنګه سپینومه و جهان ته

خپل بدن کې مې ښکاره وجدان ورک کړي
درې څلور نارې مې ووهلي ځان ته

چي لیدلي مې دوزخ په دې دنیا دي
زه به لوخې پښې روان یم جنتان ته

اوس ګناه په ډیر جرئت باندې کومه
ما یو کس دی شفیع کړي و رحمن ته

زه او ژمن که یوځاي نه سو په دنیا کي
بیا یې یوسي مړ جسد و قبرستان ته

●●●

زما برخه د قسمت توره بلا ده

ketabton.com - The Digital Library



زندګی می نه زما او نه هم ستا ده

دچا تصویر ته زه د میني سجده کړم
نه پوهیږم په قیامت می څه سزا ده

ډیرو ډیرې ښیرې کړي دي زما ژوند ته
په اور ناست خو مطمئنه مې ارواه ده

ستا دیدن یمه تر کفره رسولي
ستا دیدن کی مې هر لمونځ رانه قضا ده

دوه تضاده به زه څنګه سره یو کړم
په ګناه ډوب یم خپل رب ته مې دعا ده

اصلاح کړي مې تر اوسه خپل ځان ندي
ځکه هر وخت مې خپل ځان لره وینا ده

ketabton.com - The Digital Library



د ژمن مينه ډير بې ځايه زراعت دي دي

د ژمن مينه يوه ونه په صحرا ده

•••

نه يي خوښ په ميکده يم نه په خواکې د حرم

دا څه غواړي دا خلګ چې مدام مي بولی ګرم

سجده مي کړې نده بې مطلبه په لمانځه کي

نو ځکه اوس روان يم په کافرو پسې سم

ابراهيم غوندي مي سوځي بيامي وکړې تداوې

په شکل د نمرود دي په اعمالو تري نه کم

يو ځوان د هيواد په ازادي باندي شهيد سو

مه کوئ اې خلګو په دې کور باندي ماتم

ketabton.com - The Digital Library



دښکلو سره ناسته‌مې خپل رب را یادوي
لګیا یم په ګناه کي خو بیا هم جنت ګټم

دی چې پرې مئین دی دغه کس ریښتنی ندي
دا ژمن نو کله کړي دي په دې خبره غم

•••

که د ځان پوهول غواړي قرآن ولوله سړیه
یاداښت د شیطانانو فرشتو لوله سړیه

چي پوسي په دې چل چي خنګه ماته کړي نړۍ
لیکلي وصیتونه د نیکو لوله سړیه

ګټلي مو هر جنګ تري د یهودو نصاراوو نه
دا تورې تاریخي او د پیړو لوله سړیه

غازیان یي شهیدان کړل یو په بل پسې یي وژني

ketabton.com - The Digital Library



مات مات دا تصویر د آئینو لوله سړیه

چي پوسی نو خفه به سی فرشتې د آسمانونو
په دې سبب د ژمن غزل ورو ورو لوله سړیه

•••

پیدا یي کړئ جواب دا ټوکه نده نه کیسي
ژوند د ملنګی ښه دي که ژوند د عیاشۍ ؟

په شهر ناپرسان کي دغه پریکړه څوک کولای سي ؟
ازاد ښه دي سړی یاکه تړلي په رسۍ ؟

دین یې دي زده کړي د څو ورځو مسافر و
حاجي سړي خو ګوري چي په سر یي ده خولۍ

ketabton.com - The Digital Library



زما د یار جمال ته کاینات ټوله عاجز دي
شاته به سي دواړه دغه لمر دي که سپوږمۍ

ښایست خو الهي دي د انسان په اختیار ندي
دا لویه ناپوهي ده په مغروره ده جینۍ

قیامت سو وه سړیه ته لا هم په ګناه ډوب یې
اوریدلي دې نو نده د اسرافیل د فوف شپیلۍ

زه دومره تقوا دار سوم په آسمان قدم ایږدمه
ولاړ زه په دوزخ یم خو د جنت یخه سیلۍ

په صریح الفاظو خلګ ژر اوس خفه کیږي
نو ځکه ژمن کوم په کینایه باندي ډالۍ

ketabton.com - The Digital Library



●●●

دده خدایې مي نوره نده خوښه

دا بندګي مې د بت نده خوښه

قبر ته ناست په ګناه ډوب ښکاریږم

دا ملنګی مي نوره نده خوښه

ما د الله جنت لیدلي ځکه

دنیا هستي مي نوره نده خوښه

د اسرافیل مي اوریدلي شپیلي

ستا موسیقي مي نوره نده خوښه

چي د پیسو په بدل لمونځ ورکوي

دا ملا یې مي نوره نده خوښه

ketabton.com - The Digital Library



ورکي ذليل يم او تل خوار ياديږم

دا عاجزي مي نوره نده خوښه

ما سره جنګ وکړي په نه خبره

دا عاشقی مي نوره نده خوښه

ژمن پکې د رب ستاينه نده کړي

دده شاعري مي نوره نده خوښه

•••

ملايانو دوزخو باندې خطا کړو

ښکلو خپل په دې څهرو باندې خطا کړو

چا ويل دغه ګناه پرهيزګاري ده

ketabton.com - The Digital Library



د قرآن په ایاتو باندې يې خطا کړو

په باطن کی کلیسا وه او مندر وو
په ظاهره مسجدو باندې يې خطا کړو

دا چي وايي خداي رحيم دي او رحيم دي
شيطان دغه څو لفظو باندې خطا کړو

اوس چي مړه سوو و دوزخ لره روان يو
ها غازيانو ملايکو باندې خطا کړو

داچي ښه يې په ډير بد باندې ليکلي
په ليکل سوي تاريخو باندې يې خطا کړو

قبول سوي مو يو لمونځ تر اوسه ندې
يو فوقح په مسلو باندې خطا کړو

ketabton.com - The Digital Library



دعشق اظهار يې په ترنم کی دی تل کړي

دغه ژمن په اذانو باندې خطا کړو

•••

نه مو خدمت وکړي دژبی نه د ولس نه د رعيت

نه د دين د پرمختګ سوو نه د علم نه د عزت

وصيتونه تل کومه د اسلام په طهارت

هيچا دين ساتلي ندي د بېدين په نزاکت

غرقيدل او ډوبيدل دغه بيړي د انصافيت

يوه شپه وه تيره سوله ډير په ويره او دهشت

نه مي لاس درڅخه واخيست نه رضا سوي په منت

ketabton.com - The Digital Library



ما خو ځو ځلي ځان مړ کړ ستا د حسن په صفت

توریدل وه دسپین مخ دپاکۍ او نظافت
دا دخداي مهرباني وه که د خداي و قهارت ؟

چي مورړ به په یوه او ته په بله لار روان وې
دا زموږه هوښیاري وه او که ستا و حماقت ؟

ژمن چي هر ځلي جوړ سوي دي ملنګ ستا د زیارت
ورته کتلي ندی یاره تا په مینه محبت

●●●

د جهاد شوقي ته به خپل آس ولاړ وي
ټوله کفار به لاس په نام ولاړ وي

زه وړاندوینه د راتلونکي کوم
په مسجدو کي به بتان ولاړ وي

ketabton.com - The Digital Library



که اراده کړم د کعبې طرف ته
په هره لاره کې شیطان ولاړ وي

موږ نو بیځایه ملامت ولي یو
په میکده ټل صوفیان ولاړ وي

زه به ور منډه کړم په هغه وخت کي
که پل صراط باندې جانان ولاړ وي

زه ژمن که مړ سم د نړۍ څه غم دي
دغه لوي لمر به په اسمان ولاړ وي

# دوهم فصل (مینه ناکه برخه)

نه مېخپل کړي نه مي وبایللي یاره
غم دې ډیر دي زه یې وویستم له کاره

ketabton.com - The Digital Library



ددې کلي خلک ټول راته حيران دي
ما دومره دې ژړلي ستا لپاره

رغيدل مي هيڅ درملو کي اوس نسته
بس ته راسه زه په تا يمه قراره

پر روان يم خامخا به تري نه لويږم
په نازک تار مې ده تللي د ژوند لاره

چې يو ځل دی بیا په هغه رنګ وګورم
زړه می غواړی ستا د مخ هغه سینګاره

چي د يار د ښکلي مخ تصوير نه ښيی
ماتوي به دغه ژمن هغه هینداره

●●●

ketabton.com - The Digital Library



وچ وچ ګلونه پسرلي کي وينم

لوی لوي زخمونه خپل زړګي کي وينم

ته د بلبل په څير ناريږ کوه تل

زه خپل سکون په خاموشي کي وينم

جالب مشکل ته دی تړلي يمه

حل يي يواځي خودکشي کي وينم

دا ټول شتمن په لوي عذاب ککړ دي

د ژوند راحت په غريبي کي وينم

ته هم ناکام سوي او مئين سوي ژمنه

زه دې اظهار په شاعري کې وينم

●●●

ووايه جانانه بڼغ دې بيا نن ولي غلي دي ؟

ketabton.com - The Digital Library



فکر دې نن بیا چا په حرم کې در ترلي دي ؟

داچې د پیرتوب دعوه کړي دې سري ته ووایه
ایا په ریښتنی عقیده دې خداي منلي دي ؟

ځغلو او راځغلو له سهاره تر ماښام پوري
ژوند یواځې زما که د هر سري دا ستړي دي ؟

نه ویریږم خدایه ستا د اور له دوزخونو نه
ځکه مطمئین یم ما په تا ایمان راوړي دي

پریږدي دا سړي چې اوس ګډیږي او نغمې وایي
د ژمن و مریدی ته نن په غلا باندي راغلي دي

•••

ketabton.com - The Digital Library



سمی خبري راسره چا ونکړي
ټولو همدا ویل جفا ونکړي

زه دې په ځان لکه مجنون مئین کړم
ګوره چې بل ځلي ادا ونکړي

زه به دې ذکر پخپله زړه کې کوم
ته یادونه د بل چا ونکړي

زه دې په هر کار راضي کړي یمه
خو ددې رقیب سره وفا ونکړي

زه ژمن در تلل په دې سبب نه کوم
په ما غریب پوري خندا ونکړي

●●●

نه دې نور نوم اخلم او نه دې هم صفت کومه

ketabton.com - The Digital Library



نور دې له هر ډول یارۍ څخه رخصت کومه

دومره مایوسه یم چې هیڅ درته ویلې نسم
دومره غوسه یم چې له ځان څخه نفرت کومه

د سترې ژوند او د غربت د پیغورونو څخه
اوس د هر چا په شتمنۍ باندې لعنت کومه

لیونۍ مینې دې دومره لوی بزرګ کړمه چې
په ښار کې ګرځم د مینو امامت کومه

د ځوانۍ تر سپین ږیرتوبه د ژمن دا خبره
چې مینه ونه کړې وهر چاته وصیت کومه

●●●

د آدم زوې یم لکه آدم ما هم خطا کړې ده
د حوا دلور نه مې د مینې تمنا کړې ده

ketabton.com - The Digital Library



دفکر عقل د درياب په جزيره کي نه يم
دنيا بازار کي مې احساس باندې سودا کړي ده

د ژوند له شروع نه بيا تر ختم مې نارې د يارب
چي نه سميږي خدايه ما کومه ګناه کړي ده

ما ستا کلام دي ربه تل په ښو نغمو ويلې
زما و ساز ته ملايکو تل نڅا کړي ده

ما خوب ليدې چي په کعبه باندې طواف کومه
يو چا ويل چي دادي لويه ناروا کړي ده

زه هغه نه يم چي اظهار په فريبونو کوي
ما ژمن خبره و خپل رب ته تل صفا کړي ده

●●●

ketabton.com - The Digital Library



لږ په مینه که دې زما خواته کتلای
مابه هیڅکله ګیله بیا نه کولاي

د ماشوم په څیر به ولي ژړیدلای
که لږ مینه دې و ماته راکولای

دې دنیا کي به جنت په څیر خوشحال وای
بې ویلو که دې سترګی جنکولای

ما به ولي د شرابو صفت کولای
خپل په سترګو دې که زه نشه کولای

خپل ژوند او کورنۍ ته به وزګار وای
ستا یادونو لږ دمه که راکولای

زه ژمن به بیا خفه په څه واي نازولی

ketabton.com - The Digital Library



که اظهار  زما نه مخکې تا کولاي

●●●

راسه زندګي درته بيان کړمه
خپله همدردي درته بيان کړمه

له ژوند څخه به ډيره کرکه ولری
که خپله بيوسي درته بيان کړمه

ياره که زما رب دوهم ژوند راکړي
حال به د زړګي درته بيان کړمه

ته خومي دا درد د ژوندون وپوښته
زه به يې سمدستي درته بيان کړمه

ته که د خپل جوړ ژوند تباهي غواړي
راسه عاشقی درته بيان کړمه

ketabton.com - The Digital Library



ژوند که سمول په نصیحت غواړي
حال به د مرګي درته بیان کړمه

د غرب یو نزاکت که متاثره کړي
اخلاق به نبوي درته بیان کړمه

درد که دې بیخي له زغم نه ووتي
حکمت به الهي درته بیان کړمه

که غواړي چي د ژمن په رازو پوهه سی
بیابه شاعري درته بیان کړمه

●●●

تاته کړي مي د میني سجده وه
هیره کړی مې د رب سره رشته وه

ketabton.com - The Digital Library



زه زه نه وم ستا په حسن مې قسم دي
ستا ويښتان چي ستا په مخ باندي ايله وه

ستا خبري موسيقي وه او ثواب و
بې ستا آوازه په غوږو مې روح کښه وه

ستا ديدن مې د ناروغ وجود درمل و
چي ته نه وي په بدن مې زلزله وه

زه ژمن پوسوم خپل په تير بدو وختونو
ستا دوستي د ناکامۍ يو پيلامه وه

●●●

زما په وجود کې لکه ساه يې خو ته نه پوهيږي
هم ناروغي هم مې دوا يې خو ته نه پوهيږي

ستا په تنکيو ښنو مئين يم ته خبره هم نه يې

ketabton.com - The Digital Library



ته مې د تورو شپو رڼا يې خو ته نه پوهېږې

د روح غوږونه مې معتاد دی اوس ستا د آواز
د ړندو سترګو مې  بینا یې خو ته نه پوهېږې

خداي ته زاری فریاد ژړا کوم تل ستا لپاره
په هر لمانځه کې مې دعا يې خو ته نه پوهېږې

ما ژمن ته مه وايه چې ستا سره مې کړې وفا
دا حقیقت دې بې وفا یې خو ته نه پوهېږې

•••

نن مې بيا زړه خپل په سترګو درته ګورې
نن په شين اسمان باران راباندې اورې

خلک ټول به پخپل ځان باندې مئين کړې
که رانجه باندې هغه کړې سترګې تورې

ketabton.com - The Digital Library



مطلب پرستو آشنایانو یم مات کړي
اوس ویریږمه د خپل د وجود له سیوری

که ستا دمیني د سپوږمۍ رڼا کمیږي
ځلیږي به زما د مینی ستوری

ژمن اظهار دي هر غزل کې درته کړي
خو تا خوړلي دی د هر غزلې تورې

•••

ما په وعدو باندې وفا مګر خو تا ونکړل
ما ځان قربان کړلو له تا خو تا خندا ونکړل

تا د یو څو پیسو لپاره خپل عزت لیلام کړ
تاخو د هغه قهار رب نه هم حیا ونکړل

ketabton.com - The Digital Library



زړه مې اوس دومره بې سکون دي اندازه يې نسته
ما خو د غم سازو ته دا ځلې نڅا ونکړل

که يې دروا‌غ ګڼي زما د عاشقۍ خبره
بيابه کافره يمه جانانه که رينتا مي نکړل

ته خو مغروره وې پخپل جمال او حسن ډېره
ځکه په تللو دې ما هيڅکله ژړا ونکړل

ستا بيلتون کي داسي سوي مې جسد ښکاريږي
تا په دې ژمن باندې پوښتنه بې پرواه ونکړل

•••

درد به يي نو څه وي د مرګي نه به ډېر نه وي
مئين چي سي سړي نو د پخوا په څير خو نه وي

د چا څهره يي دومره حافظه کي سي مدغمه

ketabton.com - The Digital Library



ولاړ که په لمانځه وي خو جانان به يي هير نه وي

ټول يي مخالف او رقيبانو په يو دم جوړ سي
که ټوله نړۍ چاپې کړي خو دوستان به يي څوک نه وي

اوښکي سي تمامي چي ديدن يوه ورځ نه وي
که وژاړي بي حده خو ګريوان به يي لوند نه وي

ژمن سپيڅلي عشق دي د خپل سر په بيه کړي
ژوندکه يې برباد شي خو خفګان به يي هيڅ نه وي

•••

هم تصادف دی هم دخداي مداخله ده
ته چي ما باندې مئين سوي دا لويه معجزه ده

وجود می هم ستا په فراق باندې عادت سو
روح مې هم ستا په غمو کي اموخته ده

ketabton.com - The Digital Library



تا خو پيژنم دوه مخې يې ملګري
سپيڅلتيا دې د درواغو اوازه ده

چي سجده کي به زه ذکر د يار نکړم
ماته کړي مې څو ځلې دا توبه ده

چي جنت کي به هم تاسره اوسيږم
په دې فکر مي نيولي تل روژه ده

د دوزخ په لار روان يم و جنت ته
دغه لاره اوس چپه ده که راسته ده

چي د روح بړغ يې خاموش په څو لحظو کړي
دا منطق دي دا د روح يو فلسفه ده

ketabton.com - The Digital Library



خفه کيږي ستا په ناز نخرو خبرو
ژمن جوړ کړي له خپل رب سره رشته ده

●●●

ستا قدمونه چی له کوڅي لاړه
دسترګو دید مې درپسي لاړه

چي يی د مينی تراني ويلي
هغه مرغان له دې باغچي لاړه

هغه ساعت باندې بي حسه ومه
هغه چی ليري له نږدې لاړه

چي يې سل کاله ملنګي کړي وه
هغه سړي نن له کعبې لاړه

چي مي د ژمن له بيلتانه خبر کړ

ketabton.com - The Digital Library



روح يې له تن په څو شيبې لاړه

•••

ډک محفل سره زما اوس مينه نسته
ټول راغلي دي هغه ور پکي نسته

ما ډک کړل کتابونه خپل په ورانو احساساتو
قلم مي دومره وچ سو نور ليکه ور پکي نسته

هرڅومره چي يې خورمه خو اجل هيڅ نه راځي
د زهرو بوتل خلاص سو نور ترخه ور پکي نسته

اوس دومره بي مزي سو چي باور به دې نه کيږي
ژوند لاړي بي معنا سو نور خواږه ور پکي نسته

په اوړی مو هم ونه خوت ارمان د ژوندانه
ژمي هم بي خونده سو ساړه ورپکي نسته

ketabton.com - The Digital Library



دوي ته اسلام راغلی په زړونو کې رڼا سول
دا خلګ دومره روڼ دي چي تياره ورپکي نسته

د ژمن په بيلتانه کي تاوان دې کس دومره وکړي
ژوند يي داسي اور سو چي سکاره ورپکي نسته

**پاي**

ketabton.com - The Digital Library



د پر ډول پوښتني او غوښتني لپاره لاندي واتساف شمېرې سره اړیکه ونیسئ:

Whatsapp:**+93744405671** ▯

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*